مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: بشرمل پسرلی ۲۰۲۴/۰۵/۰۱

# فډرالېزم: خيالي طرحه د تجزيې له ارمان سره

۴ برخه

کله چې په افغانستان کې د قومي او ژبني حذف ادعا بې بنسټه ثابتېږي، بيا دا ادعا کېږي چې افغانستان جعلي هېواد دی، افغان مصنوعي او تحميلي هويت دی او د افغانتسان تاريخ په جعل ولاړ دی؛ که چېرې فډرال رامنځته کېږي، د افغانستان نوم، افغان هويت او د افغانستان تاريخ به د تل په ځبر نه مني، دا وضعيت به افغانستان کوم لور ته بيايي؟ ښکاره ده چې داسې کړنې نه د فډرال په تيوريکې شته او نه هم د کوم فډرال نظام په تجربو کې داسې پېښې شوې، چې فډرال ددې په پار رامنځته کړي، چې د وطن ټول اساسات او وياړونه او هويتونه له منځه يوسي. په نړيوال کلي کې ژوند کول، ددې اړتيا پېښوي، چې يو هېواد نړيوالو ته خپل هويت ور وپېژني، خو دا هېڅکله په دې مانا نه ده، چې قومي هويتونه دې حذف شوې وي. که يو هندو ته هندی يا هندوستاني ويل کېږي، دا د هند د لسګونو قومونو او دينونو د هويت د حذف کوښښ نه دی، بلکې په نړيوال سټېج کې د هندوستان د هويت پېژندنه ده. په همدې ترتيب که د تاجکستان هېواد وګړو ته د تاجک اطلاق کېږي، دا د اوزبک او نورو قومونو حذف نه دی او کله چې د انګلستان په پاسپورټ کې برېټېش ليکل کېږي، دا د لسګونو قومونو، ژبو او دينونو حذف نه دی بلکې په نړيوال سټېج کې د انګلستان پېژندنه او د انګليس دولت او ملت د پايښت او پرمختګ يو له بنسټيزو اساساتو څخه شمېرل کېږي. کله چې د افغانستان پېژندپاڼې ته کتنه وشي، په ښکاره د ديني، قومي او ملي هويت ذکر راغلی. له پېړيو راپدېخوا افغان ملي هويت پېژندل شوی او عام شوی او هم نړيوال د افغانستان وګړو ته افغان وايي. د افغانستان د يووالي، پايښت او پرمختګ په موخه افغان او مسلمان هويت د ملت په لوړ ارزښت بدل شوی، چې د هېواد په ساتنه او پالنه کې يې رغنده رول لوبولی ، ځکه خو ددې هېواد اوسېدونکي افغانان و، افغانان دي او افغانان به وي.

اساساً د فډرال غوښتوکو کلتوري فرضې په عقدو او عصبيت ولاړې دي، کله چې عصبيت وي، هلته تعقل ډېر ځای نه لري، بلکې احساسات، کرکې او د ويجاړۍ په لور خوځښتونه رامنځته کېږي. د افغانستان ستونزه هويتي نه ده بلکې بې کاري، فقر، بې عدالتي، د قانون نه واکمني، استبداد، زورواکي، فساد، بده حکومتولي، د بهرنيو لاسوهنې او افراطيت د افغان ملت اساسي ستونزې دي. د بېلګې په توګه، کله چې له مهاجر افغان نه پوښتنه وشي، چې ولې دې وطن پرېښود؟ يو به هم دا ونه وايي چې ژبه او قومي هويت مې تر ګواښ لاندې و او له قومي حذف سره مخامخ وم، بلکې دا به ضرور ووايي، چې بې کاري، استبداد، افراطيت، نا امنۍ، جګړو، د مسوول او مشروع حکومت نه شتون او بې عدالتيو مهاجرت ته اړ کړم.

**ب- سياسي ( دولتي ) واک:** په ټوله کې سياسي واک په زور، مصلحت يا هم د ولسواکه پروسو په رڼا کې ترلاسه کېږي. کله چې ولسواک نظام نه وي، حتمي ده هر هغه څوک د واک په ګدۍ کېني، چې نور يې څواکمن وګڼي او يا هم په زور نور تابع کړي، خو که ولسواکي واکمنه وي، په مطلوب حالت کې دولس رايه ده چې يو څوک مسوول، حساب ورکوونکی، قانون نافذوونکی او د ولس د خير او فلاح خوښوونکی د ټاکل شوې مودې لپاره ټاکي. کله چې لوی احمد شاه بابا (رح) د افغانستان بنسټ کېښود، د وخت او د امپراتوريو ذاتي خصلت ته په کتو، قدرت ارثي بڼه خپله کړه، افغانستان ته کم چانس برابر شو، چې ولسواکي تمرين کړي، خو غازي امان الله خان هېواد ته د خپلواکۍ له ترلاسه کولو وروسته، د اقتصادي پرمختګ، قانون واکمنۍ او ټولنيز بدلون ته ملا وتړله، حتا د بهرنيو چارو وزير يې محمد ولي خان دروازي له بدخشانه وټاکه، خو حالاتو اجازه ورنکړه، چې د ښېرازۍ څېرکی بشپړ کړي. د شاهي او ارثي نظامونو خصلت دادی، چې يا به د خپلې کورنۍ غړي په لوړو دولتي منصبونو ټاکي او يا به هم هغه افراد چې شاهي کورنۍ او د شاهي نظام تداوم ته ژمن او وفادار وي. دا د وخت د نظامونو او حالاتو غوښتنه وه، چې روانه وه، خو که چېرې شاه پښتون هم و، خو له کلتوري پلوه غير پښتنو افغانانو ته يې نسبتاً ډېر خدمت کړی او له ټولنيز او اقتصادي پلوه لکه د افغانستان ټولې سيمې، د پښتنو افغانانو سيمې هم وروسته پاتې او



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

محرومه پاتې شوي یا ساتل شوي.  داسې کوم ثبوت نشته، چې د قومي انګېرنو پر بنسټ دې پښتون افغان ټاکل شوی وي او یا هم غیر پښتون افغان دې رټل شوی وي. د شاهي ارثي واکمنۍ وروسته، ایډیالوژیکې سیالۍ پیل شوې او زورورد بل په خوښه د واک په ګدۍ کېناست. دا ښکاره ده چې هېڅ زورور د هېڅ قوم، ژبې یا مذهب استازي توب ندی کړی او نه هم د ولس له لوري ټاکل شوي وو.دا د غیر ولسواکو او غیر قانون مندو نظامونو پایله ده، چې د افغان ولس غړ یې په سیاسي واک کې نه دی اورېدلی، دا نه د بسیط نظام او نه هم د فډرال سیاسي نظام د نه شتون له امله چاره وه او نه ده.
کله چې افغانستان د یوویشتمې پېړۍ په پیل کې د ولسواکۍ مشق او تمرین پیل کړ، ډېر هیله بخښونکي ګامونه پورته شول، چې د ولسواکۍ او د قانون د واکمنۍ په پراخېدو او بنسټیزه کېدوپرمهال، یو نورستاني، یو پشته یي او یا یو بلوچ به هم وکولی شي چې ولسمشر یا صدراعظم شي. له بده مرغه دا لړۍ پرې شوه، هیلې – هیلې پاتې شوې. په دې پړاو کې، لږکیو افغان قومونو ته په سیاست او حکومت کې تر لوړې کچې ځای ورکړل شو؛ د ولسمشر مرستیالان، وزیران، سفیران، والیان، ښاروالان او رییسان شول او په کوم ولایت کې، چې یو ځانګړی افغان قوم متراکمه دی، والي او نور مسوولین به حتماً له هماغه افغان قوم څخه و. که فرضاً افغانستان فډرالي وي، د فډرال ایالت د اکثریت قوم وګړی به مسوول ټاکل کېږي. کله چې د مرکزي فډرال خبر وي، بیا به هم له سیاسي اکثریت څخه ولسمشر، صدر اعظم او نور مسولوین ټاکل کېږي، چې دا چاره د لږکي قوم د قومي سیاست وال هغه هیله هېڅکله نه پوره کوي، چې فرد اول مملکت شي، خو که چېرې هر افغان وګړی ملي سیاست وکړي، فردي ازادۍ او ولسواکۍ ته کار وکړي او ځان د افغانستان په کچه محبوب کړي، لرې نه ده چې فرد اول مملکت شي. د افغانستان په تاریخ کې موږ تر یووېشتمې پېړۍ ولسواک بسیط نظام نه دی تجربه کړی، بلکې له ۲۰۰۱ میلادي کال راپدېخوا تر ۲۰۲۱ کال پورې د بسیط ولسواک نظام هڅې پیل شوې، چې نیمه ریاستي حالت یې درلود. که متصور کړو، چې هر ولسمشر د ولس په رایه بل ته د قدرت لېږد منلی، اساسي قانون پلی کېدی او د دولت درې ګونې قواوې، مدني ټولنې، خصوصي سکټور او ولس هر یو پخپله برخه کې خپل رول لوبولی وی، لکه نور باثباته ولسواک بسیط نظامونه، نن به په افغانستان اوسنی وضعیت حاکم نه وی.
روان او اوسنی وضعیت یو استثنایي حالت دی. طالبان په طالباني او یو ډول وطني ذهنیت په افغانستان واکمن شوي، طالبانو هېڅکله د یو ځانګړي قوم استازیتوب نه دی کړی او قومي مسایلو ته په هېڅ ډول معتقد نه دي، که چېرې داسې وی او یوازې پښتانه طالبان وی، اوس به یې په تېرو څلوېښتو کلونو کې په لومړي ځل په ټول هېواد سراسري واکمني نه شوی کولی. ایا طالبانو هغه څه چې په سپین بولدک کې وکړل، په بامیان یا پجنشېر کې یې کړي؟ طالبان چې کوم قیودات وضع کوي، په ټولو افغانانو یې وضع کوي، حتا پښتانه لا ډېر تر سختو اوامرو لاندې راولي. د طالبانو واکمني د بسیط ولسواک نظام استازیتوب نه کوي، بلکې یو ډول اسلامي نظام دی، چې طالبان یې پخپل تفسیر او په ځانګړي ډول پرمخ بیایي. شته ځینې فډرال غوښتونکي قومي سیاستوال، چې د خپل قوم د هرې مفکورې کس ورته اتل برېښي. که نن د طالبانو لوی درستیز د طالبانو نظام پر وړاندې یوه خبره وکړي، حتا لیبرال او سېکولر قومي فډرال غوښتوونکي به یې د اتلولۍ زمزمې پیل کړي.

**ج- سیاسي نظام**: افغانستان پخپل نوي درې سوه کلن تاریخ کې له ۱۷۴۸ میلادي کال راپدېخوا ډول ډول غیر ولسواک نظامونه تجربه کړي: امپراتوري ( ۱۸۴۷ – ۱۸۰۰ )، امپراتوري ذوال ( ۱۸۰۰- ۱۸۸۰ )، مطلقه شاهي ( ۱۸۸۰ – ۱۹۱۹ )، خپلواکي او مشروطه شاهي ( ۱۹۱۹ – ۱۹۲۸ )، انارشي ( ۱۹۲۹ )، مشروطه شاهي ( ۱۹۳۰ – ۱۹۷۳ )، غیر ولسواکه جمهوري ( ۱۹۷۳- ۱۹۷۸ ) کمونېستي او استبدادي ( ۱۹۷۸- ۱۹۹۲ ) انارشي او قوماندان سالاري ( ۱۹۹۲- ۱۹۹۶ ) ملایي تیوکراسي ( ۱۹۹۶ – ۲۰۰۱ )،ولسواکه ریاستي ( ۲۰۰۱ – ۲۰۲۱) او ۲۰۲۱ – تر دې دمه ( طالبانو اسلامي امارت ).
دا چې د نظام د بڼې او یا د قومونو د تضاد له امله د افغانستان نظامونه پرځېدلي، مستدله او عقلاني نظر ندی. د نظامونو پرځېدو بحث ډېرې موضوعګانې په ځان کې رانغاړي، خو دلته به دومره ووایو، چې د هېواد سُنتي کلتور، فیوډالي او ملک الطوایفي ځانګړتیا، د بهرنیو لاسوهنې، د نړیوالو ایډیالوژیکې سیالۍ، سیاسي مشرانو ځان پالنې او د ځینو وفاداري نورو هېوادونو ته نسبت افغانستان ته، ددې لامل شوې، چې ځواکمن دولت ونه لرو او د نظامونو د پرځېدو باعث شي. ظاهراً د غازي امان الله خان خپلواک او مترقي حکومت له دننه یا له بهره د اغېزناکو ملایانو ډنډورو ړنګ کړ، د حبیب الله کلکاني حکومت د نوموړي د نا اهلۍ او د افغانستان د بربادۍ د مخنیوي په موخه ړنګ شو، شاهي نظام د شاه د کورنیو غړو د جمهوریت په نوم ړنګ کړ، داود خاني جمهوریت کمونېستي افکارو او ایډیالوجۍ ړنګ کړ او کمونېستي نظام اسلامي کورنیو یا له بهره اغېزمنو اسلامي افکارو ډلو ټپلو او په همدې ترتیب د مجاهدینو ډلو له منځه تګ په طالباني فکر شوی او جمهوري نظام هم په قومي انګېزه نه دی ړنګ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شوی. د تېر شل کلن جمهوري نظام د ړنګېدو لاملونه ډېر دي، خو د نړۍ همکارو قدرتونو پرېکړې، د ځینې هېوادونو لاسوهنو، د نظام د چارواکو غفلت او فساد، د قانون واکمنۍ او ولسواکۍ ته نه ژمنتیا، محلي زورواکو او د افغاني ټولنې دودیزوسنتونو د نظام په پرځېدو کې لوی لاس درلود.

د افغانستان وروسته پاتې والی او درد د فدرالېزم د نه شتون له امله نه دی او نه هم د بسیط نظام د واکمنۍ له امله، بلکې نور ډېر لاملونه دي، چې افغانستان یې بد وضعیت کې ساتلی. دا د هر هېواپال او ویښ افغان هیله ده، چې افغانستان خپلواک، پرمختللی، ولسواک او قانونمن ووینې. روڼ اندي او ولسواکۍ پلوه افغانان د یو داسې پرمختللي، قانونمن او ولسواک افغانستان تصویر له ځان سره لري، چېرې چې د بشري حقوقو درناوی وي، د متنوع هویتونو ساتنه او پالنه وي، د ملي هویت ارزښت او اهمیت وي او د افغانستان خپلواکي، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي واکمني خوندي وي او د یو اغېز ناکه دولت په توګه په نړیوال نظم کې رغنده رول ولوبوي. افغانانو د افغانستان بقا، په سیمه کې د بې نظمۍ څخه د مخنیوي او د کلتوري جګړو او د هېواد د تجزیې څخه د مخنیوي په موخه، تل بسیط نظام منلی، خو لکه څرنګه چې اړینه وه، ولسواکي په افغاني ټولنه او سیاست کې مناسب ځای نه دی موندلی، چې دا جلا بحث ته اړتیا لري، چې ایا دا د دودیزو سنتونو او اسلامي ارزښتونو له وجې ده او که نور لاملونه هم لري.

دا انګېرنه چې بسیط ولسواک نظام سیاسي قدرت په افرادو پورې منحصر کوي او له سیاسي واک څخه د ناوړې ګټنې زمینه مساعدوي، پوچه ده. لومړی، که چېرې بسیط نظام دا چارې رامنځ ته کولې، اوس به فرانسه، انګلستان، حتا ایران او په لسګونو نورو بسیط ولسواکو او حتا غیر ولسواکو نظامونو کې افراد د تاریخ برخې وی، نه نظامونه او پرمختګونه. دویم، که چېرې بسیط ولسواک نظام د سیاسیونو د ناوړه ګټو سرچینه وی، فدرال غوښتونکي دې د هغو ټولو هېوادونو د سیاسیونو ناوړه بېلګې وړاندې کړي، چې دوی یې په ملاتړ وېاړي، لکه ایران، ترکیه، تاجکستان، فرانسه، اوزبکستان او داسې نور. درېیم، کله چې بسیط ولسواک نظام کې مسولین د ولس په رایه د ولس له لوري د یوې ځانګړې مودې لپاره ټاکل کېږي، څنګه کولی شي، چې سیاسي واک منحصر او متداوم کړي؟ که چېرې دا هڅې وشي، یعنې ولسواکي او د قانون واکمني نفې شوې او ولس هم بې حسه شوی، ددې حالت تصور هم په فدرال نظام کې کېدی شي او هم په بسیط کې، لکه روسیه او ترکیه، چې یو یې فدرالي دی او بل یې بسیط دی. اساساً مطلقه شاهي، استبدادي، تیوکراسي او کمونېستي نظامونه سیاسي واک په افرادو او ډلو منحصر کوي، چې په ترڅ کې یې د هر ډول ناوړه ګټو تصویر مجسم کېدی شي، لکه روسیه، سعودي عربستان، پاکستان او شمالي کوریا. پاکستان فدرالي دی، خو د هېواد سیاست او منابع د پوځي جنرالانو په لاس کې دي نه د قومي لړکیو او یا فدرالي ایالتونو، روسیه فدرالي نظام دی، خو د ولادمیر پوتین خبره نظام دی، عربستان بسیط نظام دی خو د محمد بن سلمان خبر هم دین دی او هم سیاست، شمالي کوریا بسیط نظام دی خو کیم جون اونګ هم قانون جوړونکی، تطبیق کوونکی او هم قضاوت کوونکی دی. اساساً چېرې چې ولسواکي، قانون واکمني، فردي ازادي او عدالت نه وي، هلته که هر نظام په هره بڼه راشي، سیستم او نظام به افراد نه چلوي، بلکې افراد به سیستم او نظام چلوي.

د قومي فدرال غوښتونکو بنسټیزه ستونزه داده، چې ولسواک فدرال ارزښتونه له مورثي مطلقه شاهي، کمونېستي انارشۍ او یا هم د اخوانیانو له سیاسي اسلام سره پرتله کوي چې افغانستان کې تېر شوي او تمه کوي، چې دې نظامونو باید بشرپاله ارزښتونه تامین کړي وی! د فدرال نظامونو پرتله له مطلقه یا مشروطه شاهی، د اخوانیانو اسلامي نظام او یا کمونېستي سره غیر منصفانه قضاوت دی. په داسې حال کې چې مختلفو هېوادونو د خپلو لیبرال، کمونېستي، دیني، سُنتي او نېشنلستي ارزښتونو او غوښتونو د ښه پلي کېدو په موخه، په ډول ډول سیاسي چوکاټونو فکر کړی او پلي کړې یې دي، ترڅو وطنونه او ملتونه د هغو په ډانچه کې د خپلو هېلو د پوره کېدو په موخه پر مخ ولاړشي، چې اوس هم دا ارزښتونه او غوښتنې د سیاسي افرادو او ټولنو د مبارزو اساس ټاکي. هغه ټولنې چې د اوږد مهالې یا دایمي هوساینې په لټه کې دي، ولسواکي یې منلې او د ولسواکو اصولو په چوکاټ کې خپل ژوند ته یې دوام وربخلی. ډېرو هېوادونو ولسواک ارزښتونه په بسیط نظام کې پالي او لږ شمېر د ځانګړو حالاتو په رڼا کې فدرال نظام یې لازم ګڼلی. اساساً، موږ د نوي افغانستان په مختلفو تاریخي پړاوونو کې نظامونه لرل، خو ولسواک نظامونه مو نه لرل. که چېرې موږ په رېښتینې معنا بسیط ولسواک نظام درلودی او یا مو تجربه کړی وی، پایله یې د قومونو او ولسونو نارضایتي وی، بیا پوښتنې راولاړېدی شوی.

اساساً ولسواک، قانونمند او عادل نظامونه د خپلو وګړو حقوقو ته درناوی کوي، که دا بسیط وي او که فدرال. پاکستان فدرال نظام لري او ترکیه بسیط نظام. ایا پاکستان کې د لږکیو حقوق په سمه توګه پام کې نیول کېږي او که په ترکیه کې؟ ایا په هندوستان کې لږکي خوشاله دي او که په نیوزلانډ کې؟ ددې ترڅنګ، په هر حالت کې دا صدق نه کوي چې فدرالېزم د وړو قومونو قومي او ژبنی هویت پراخوي. که چېرې داسې وای، د پښتونخوا او بلوچستان ایالتونو کې به پښتو او بلوڅي ژبې په رسمیاتو کې ګډې وی، په هند کې به انګلیسي او هندي تردې کچې عام والی نه موند. ولسواکي یعنې د خلکو حکومت د خلکو له لوري او د خلکو لپاره، چې دا اساسات په ډېری ولسواکو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نظامونو کې تحقق موندی شي، که ظاهري بڼه او نوم یې هرڅه وي. هند د نسبي خپلواکو ساحو څخه د انګلستان په ملاتړ رامنځ ته شوی او دا د مهاتما ګاندي د عدم تشدد او د جواهر لال نهرو او د ګانګرس حزب سېکولره او ولسواکه اېډیالوژي او پالیسۍ وې، چې د هند له پاشل کېدو یې تر څه بریده مخنیوی کړی، خو اوس کټل کېږي، چې د بهارت د خلکو ګوند د مودي په مشرۍ د هندوېزم د تاریخي مدنیت د ژوندي کولو پالیسي پرمخ وړي او په وروستیو کې د بابري مسجد نړېدل او پرځای یې د رام مندر جوړل به د ټولو په یاد وي.

نور بیا
**د فدرالېزم فلسفي ته په کتو، د افغانستان واقعیتونو او عیني او ذهني شرایطو په پام کې...**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ